کمیته مستقل مشترک نظارت و ارزیابی
مبارزه با فساد اداری

د اداری فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې
خپلواکه او ګډه کمیټه

Independent Joint Anti-Corruption
Monitoring and Evaluation Committee

MEC صادره ۱۰۴۴
۱۳۹۲/۷/۱۹

د ۱۳۹۲ کال د تلې د میاشتې ۲۸مه نیټه

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ملی شورا
د طبیعي زیرمو او چاپیریال ساتنې کمیسیون ته

د کمیسیون ډېرو درنو غړو:

**موضوع: د کانونو د قانون په مسوده کې د روڼتیا او حساب ورکونې د کچې لوړول**

لکه چې خبر یاست د اداري فساد سره پروړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه په افغانستان کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې ملي او نړیوالې هڅې په خپلواکه توګه څارې او ارزوې یې او عامه خلکو، ملي شورا، ولسمشر او نړیوالې ټولنې ته په هرو شپږو میاشتو کې خپلواک رپوټونه چمتو کوي.

د اداري فساد سره پروړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې د خپلو دندو د لایحې سره سم د کانونو د هغه قانون مسوده تر څارنې لاندې نیولې چې اوس مهال ستاسو په کمیسیون کې تر غور لاندې ده. په افغانستان کې د اقتصادي ودې په اړه د نوموړي قانون اهمیت او په هیواد کې د طبیعي زیرمو اغیزمنې سمبالونې ته په کتلو سره، د اداري فساد پروړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه د دې غوښتنه کوي چې د طبیعي زیرمو او چاپیریال ساتنې کمیسیون او ملی شورا دا چاره ډاډمنه کړي چې په نوموړي قانون کې داسې کافي احکام موجود وي چې د کانونو سکتور له اداري فساد څخه خوندي وساتل شي.

په ځانګړې توګه د اداري فساد پروړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه د لاندې تعدیلاتو سپارښتنه کوي:

**د اغیزمنتیا د رامنځ ته کولو لپاره ځنې مادې باید پیاوړې او غښتلې شي.**

- د اسنادو محرمیت باید هغو ته محدود کړی شي چې د سیالی په ډګر کې د کمپنیو ورتیا په ریښتیني توګه تر پوښتنې لاندې راولي؛
- نوموړی قانون باید په صراحت سره د دې غوښتنه وکړي چې اړونده تړونونه په بشپړه توګه خپاره شي؛
- د جوازلیکونو او قراردادونو پر انتقال او بدلونونو باندې باید محدودیتونه نور هم پراخ شي؛
- د جوازلیکونو لپاره د مالکیت د اړونده معلوماتو خپرول باید په ټینګار سره وغوښتل شي؛
- د کانونو په اړه د وزیرانو د ګډ کمیسیون پرېکړې یا تصامیم باید هغه وخت باطل او بې اعتباره وګڼل شي چې کله د کتو تضادونه رابرسیره او برملا شي؛
- د داوطلبۍ کړنلارې باید په تفصیل سره هغه وخت مشخص کړی شي چې خوندي ساتونکي احکام د دواړو یعنی د کیندنو او استخراج د جواز لرونکو د داوطلبۍ ګډ بهیر ته اجازه ورکړي؛ او
- د امتیاز د حق یا په تولید یا په ګټه کې د ونډې یا برخې د ټاکلو چلند او د هغو د سنجولو بنسټ باید وضع کړی شي.

**هغه کړنې چې د کانونو د قانون په مسوده کې د ځواب ورکولو او مسؤلیت منلو چاره پیاوړې کوي**

- نوموړی قانون باید په هغو تړونونو او فرعي تړونونو کې چې د کانونو او پطرولیم له وزارت سره لاسلیک کیږي، د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د اړونده فقرو او بندونو درلودونکې وي؛
- د کانونو او پطرولیم له وزارت څخه باید وغوښتل شي چې ملي شورا ته په منظمه توګه رپوټونه وړاندې کړي تر څو د پارلماني څارنې او د تړونونو د ترتیب او تړلو د غوښتنو تر منځ انډول برابر شي؛ او

TELEPHONE: 0797 51 58 71 | EMAIL: contact@mec.af
ADDRESS: House# 254, Phase 1, Ashraf St, Lane 1-2, Shar-e Naw
Kabul – Afghanistan
www.mec.af

تیلفون: ۰۷۹۷ ۵۱ ۵۸ ۷۱ ایمیل contact@mec.af
آدرس: خانه نمبر ۲۵۴، کوچه ۱-۲ قسمت
الف، اشرف وات، شهر نو، کابل - افغانستان
www.mec.af

- د ټرونونو په پړاو کې د اړونده سیمو د اغیزمنو شوو خلکو د حقوقو پیاوړتیا او هغوی ته د کانونو په اړونده کړنو کې د څارنې د رول ورکول.

**نوموړی قانون باید په داسې توګه جوړ شي ترڅو هغه مادې چې له روڼتیا او حساب ورکونی سره تړاو لري په هغوکې جوتې او صراحت ولري**

- د روڼتیا، حساب ورکولو او له اداري فساد سره د مبارزې اړونده مادې او احکام باید په یوه ځانګړي څپرکي کې ځای کړی شي او د معلوماتو د خپرولو په اړه بیلابیل احکام باید په یوه ماده کې سره توحید کړی شي؛
- د دې څپرکي په اړه باید د قانون په نورو څپرکو او مادو کې ماخذ مراجع موجود وي؛ او
- یوه داسې ماده باید په دې قانون کې موجوده وي چې څرګنده کړي تر کومې کچې به د کانونو موجوده مقررات مرعی الاجراء، تعدیل یا تعویض کړی شي.

د اداري فساد پروړاندی د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه به د دې موکې هرکلی وکړی چې خپلې سپارښتنې په نور ډېر تفصیل سره محترم کمیسیون ته وړاندې کړي.

په ډېر درناوي

محمد یاسین عثمانی

د اداري فساد پروړاندی د څارنې او ارزونې
د خپلواکې ګډې کمیټې رئیس

MEC
کمیته مستقل مشترک نظارت و ارزیابی
مبارزه با فساد اداری